مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـی ناروغ

۲۰۲۰/۱۲/۰۳

# عــبادت

عبـــادت د خــدای مــنل دي، بـل څـــه نـديي
زړه خپل یار لـــره سپړل دي، بل څـه نـدی

چې ځنګون د ژونـدانــه درتــه خارزار شـــي
پـــر اوږه د یـار ژړل دي، بـــل څــــه نــدی

چـــي دردونه دي په زړه بـــانــدې یرغل کا
تـــر طبیبـــه رســــیدل دي، بـل څــه ندي

نــا بینا د زړه رنـا بـانـدې مــزل کــړي
ځـان تـــر ځـانـه رســـول دي، بل څه نــدي

میخـانــه او بتـــخـانـه کـي بـه ســاکن شـــي
پېڅ لــه یـــار سره کـتـل دي، بل څــه نـدي

بــی نــیـازو ســره څــه پـــروا دیـار شـــته
لاس تر خــوانــه رسـول د، بـــل څـه نـدي

چی نـــشه د ولایت یـــی پـاس په سـر شـوه
بـس لـه ځان ســره خندل دي، بـــل څـه نـدي

چــي مـــوجــونـــه یی د ویـــنو بهـــولي
د هـــغـه لـخوا بـــخـــښل دي، بـــل څـه نـدي

د دوزخ د اور لـــه داره چـی یــاری کـــړي
زړه بــی یـــاره غـــولـول دي، بل څـــه نـــدي

ولـی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ